**کامله عزیزي** (په ښځینه کټګورۍ کې د ۲۰۲۴ کال لومړۍ جایزې ګټونکې)

۱

توري ځنې دې جوړېږي نه کفن ته
ستا د غم خبر دې نه راځي وطن ته

درد دې اوس ګران په بې ننګه پښتنو کړې
دلته تل وي ضرورت د زخم ستن ته

د وطن د خاورې هم را پیرزو نه وې
څوک خوشاله وي تر ځانه ښکلي بن ته؟

پر قبرو یې د بنګړو توی شیشې نه شو
پښتانه زلمي یې ولېږل دکن ته

ورکوي لمر ته د ستورو نښانونه؟
سترګې ووتې د ټولو ماخوستن ته

کوهِ قافه اسماني شغلې را لنډې
خوبولې سترګې ځو د طور لمن ته

توري سرې لوپټې زموږ دې زرغونې کړي
تا دې نه لېږي د حورو انجمن ته

۲

ورځ د بېلتون سخته وه خو نه وه د محشر غوندې
سترګې یې بدلې کړې زه هم ترې لاړم نر غوندې

په خالقه خدایه را شریک په ګناه څوک به وي؟
چا یې جوړه کړې هسکه غاړه د کوثر غوندې؟

نه وي تل ګرانښت له میني هسې خوشالېږه مه
خوښ مې یې، خو مګر د رقیب پرې شوي سر غوندې

خدای ګوره د چا کړې ګناه ته قرباني کړم چې
تګ له دې جهانه راته ښکاري د اختر غوندې

پاتې مو تر منځ کومه کیسه ده چې در ګورم به؟
زړه دې هم را مات کړ پر تا باندې د باور غوندې

ته په سپېرو دښتو کې د عشق تندې اخیستی وې؟
ما ته خو له ورایه ښکارېدې د سمندر غوندې

٣

نظم

ما چې وینې اول ته غاښونه سپین کړې
په رشخند وایې د ښځو نور څه کار دی؟
مور تېر شوي تر زرګونو سیارو یو
مګر دوی ته لا ور پاتې یو سینګار دی

زه پوهېږم قدرتمن، یې زورور یې
رسېدلی د سپوږمۍ تر سره لمن یې
ښه پوهېږې چې رڼه نه ده ایره ده
خو له لرې لا تر اوسه پرې میین یې

ته د حسن په لور مات یې که خبر یې
ستا خوښېږي تر لمرونو سپین لاسونه
در مالوم دی د دې ټولو ستورو وزن
مګر ته ترې جوړوې لا امېلونه

ته د حسن په لور مات یې که خبر یې
تا په ستورو تاوان کړي سترګکونه
تر قلم دې زړه نیولی اوږدو ګوتو
تر ښامار دي وېروي د زلفو ولونه

له جنګونو راوتلی روغ رمټ یې
خو د تور اوربل په نرمه هوا مړ یې
سوري کړي دې دي غرونه د ډبرو
مګر بیا هم د شیرینې دید ته اړ یې

چې ښایسته یمه خو ته به راته ګورې
د ښکلا مې ماته څه ګټه رسېږي؟
د بنګړیو له شرنګې مې زړه تور شوی
په اوږدو نوکانو څه کوم ماتېږي

قدم اخلمه په ورو را جوړ به غم شي
پایزېب نه دي د فولادو زولنې دي
نور به ټول عمر ارامه یم، څه فرض ده؟
سترې کړې مې د ټول کور اینې دي

چې بانه مې په ملا مات نه وي نو څه ده
سترګې روغې دي هر څه وینم روښانه
پرېږدم ګډې وډې ورېځې، کوږ هلال نه
یم د ځمکې ښکته، نه یم له اسمانه

رسېده ورته ببخې دي اسان شوي
پر دې لاره اوس د ستوریو سلطنت دی
پام مې نه دی چې پرې څنګه یم روانه
بس قدم په نازو نه اخلم زحمت دی

ستا خوښېږي چې هر څه دي ښایسته وي
چپ له تا، ته چې هر څنګه یې بهتر یې
د هاکینګ د کړې خولې کیسې خوږې دي
انشټاینه! ته مو خوښ په ببر سر یې